# په جرمني کښې د پښتو يوه قلمي نسخه مجمع الاشعار

**Ali Dina Khel***

**ABSTRACT:**

*Majmu'l Ashaar is a Pashto manuscript in Staatsbibliothek Berlin Germany. It consists of two volumes. There is no name of scriber or writer on this manuscript. It has a seal of Muhammad Shah Badshah with a date ۱۱۳۸. Beside Pashto poetry, in these two volumes the poetry of a few Persian poets are also present. The first volume contains the poetry of ۱۰۲ poets while in the second volume there are ۱۰۷ poets but most of the poets mentioned in two volumes are common. The total samples of poetry of ۱۱۰ poets present in these two volumes. In this article this manuscript has been introduced with samples of poetry of a few poets.*

د جرمني د برلن ښار په يوه رياستي کتب خانه کښې د پښتو يوه قلمي نسخه د "مجمع الاشعار" په نوم په دوه جلدونو کښې موجود ده . دا قلمي نسخه د شاعرانو تذکره ده خو د روايتي تذکرو نه په بل رنګ ځکه ده چې په دې کښې د شاعرانو د کلام نمونې د شاعر د نوم سره ورکړے شوي دي خو د شاعر د ژوند په اړه پکښې څه معلومات نشته. په دوه جلدونو کښې ليکلې شوې دا تذکره د خپل ليکوال نوم نه لري. په دې مقاله کښې د دې تذکرې د دواړو جلدونو پيژند ګلو کولے شي.

مجمع الاشعار اول جلد

* Lecture Pashto Govt. Post Graduate Collage Mata Swat

د قلمي نسخې د دې جلد مظبوطه جلد بندي شوې ده . د مظبوط جلد بهرنۍ رنګ شين دے . د دې قلمي نسخې په Spine[1] باندې اول "مجمع الاشعار" ليکلي شوي دي . د دې نه لاندې Vol.I يعني اول جلد ليکلے شوي دي . د قلمي نسخې نوم او جلد نمبرپه جلد لپاسه په قلم ليکلي نۀ بلکې چاپ شوي دي . د نسخې نوم او جلد نمبر په (ګولډن)سنهري رنګ کښې چاپ دي . جلد نمبر نه لاندې يو وړوکے شان سټيکر لګېدلے دے چې په هغې Afghan ليکلي دي . د دې سټيکر نه لاندې يو سور سټيکر لګېدلے دے چې د قلمي نسخې نمبر Ms.orient.oct.۱۲۲۲پرې په سنهري رنګ چاپ ليکلے شوے دے . د اندروني ټائټل او د جلد تر مينځ پينځه پاڼې خالي د جلد بندۍ د پاره لګولې شوي دي . د جلد نه علاوه دننه په نسخه د مجمع الاشعار نوم نشته . د قلمي نسخې په ټائټل پيج لائبرېرۍ واله په توره سياهي دا ليکل کړي دي .

Acc.ms.۱۹۱۳.۱۵۰

Ms.orient.oct.۱۲۲۲

کله چې د لائبرېرۍ د عملې نه د دې نسخې د اصل ځاے ځايګي په باره کښې ما تحريري تپوس اوکړۀ نو هغوي ما ته په يو لنډ تحري جواب کښې اوليکل چې د قلمي نسخو دا دواړه جلدونه مونږ په لندن کښې په کال ۱۹۱۳ د جولائي د مياشتې په يوولسمه نېټه د .Luzac & Co نه په شل پونډه اخستي وو .

د لائبرېرۍ د دې نمبر او تاريخ نه لاندې په قلمي نسخه يو مهر ښکاري چې پرې دا ليکل شوي دي .

محمد شاه

بادشاه غازي

بنده خان بهادر

۱۱۳۸

دا ګول مهر دے چې څلور سينټي ميټره پلن والے لري . دا مهر چې لګېدل دے نو ټول تور دے خو دا ليکل پکښې د کاغذ په رنګ کښې دي . يعني د ليکلو

ځاے ړړ پاتې شوے دے ۔ دا مهر د اولې پاڼې په دواړو مخونو لګېدلے دے ۔ د دې مهر نه لاندې په قلم څه نور ليکل شوي دي چې ما ترې صرف دا اولوستل "بعوض قيمت کتاب هٰذا" ۔ د نورو ليکلو لوستل زما د پاره ممکن نۀ وو ۔ په قلمي نسخه د پاڼو دوه قسمه نمبرې لګېدلي دي ۔ يو قسم نمبرې لائبرېرۍ واله لګولې دي او بل قسم نمبرې د قلمي نسخې خپلې دي ۔ د جرمني لائبرېرۍ واله چې کومې نمبرې لګولې دي نو هغه ځکه پېژندلے شي چې دوي چې ايک (يو) ۱ څنګه ليکي هم هغه شان په دې قلمي نسخه کښې ليکلے شوے دے ۔ د يادونې وړ ده چې دا نمبرې د مخونو نۀ دي بلکې د هرې پاڼې جدا نمبر دے ۔ د جرمني لائبرېرۍ واله چې کومې نمبرې ورکړې دي نو دا ېې د ټائټل د پاڼې نه شروع کړي دي او دغه رنګ د اخري پاڼې نمبر ۳۰۱ دے ۔ په نسخه چې کومې خپل د پاڼو نمبرې دي هغه په پښتو هندسو کښې ليکلې شوي دي ۔ خو د قلمي نسخې په خپلو نمبرو کښې لږ شان ګډوډي په نظر راځي ۔ ۱۲ نمبر پکښې نشته ۔ ۱۴ نمبر دوه ځله ليکل شوے دے ۔ او د ۱۵ نمبر نه بيا دا ترتيب برابر روان دے او د ۲۲۰ پورې دا شمېره صحيح روانه ده ۔ په ۲۲۰ نمبر پسې بيا۲۲۴، ۲۲۵، ۲۲۱، ۲۲۲، ۲۲۳، ۲۲۴، ۲۲۵، ۲۲۶، دے ۔ او دغه رنګ د قلمي نسخې د اخري پاڼې نمبر ېې ۲۹۹ ورکړے دے چې صحيح نۀ دے او کوم شمېره نمبر چې لائبرېرۍ واله ورکړے دے يعني ۳۰۱ هم هغه صحيح دے ۔ خو د قلمي نسخې په کومو ځايونو کښې چې د مخونو نمبرې ګډې وډې شوي دي نو دا پته لګي چې دا پاڼې ترې چرته ختلي دي او بيا په غلط ځاے چا لګولې دي ځکه چې کله مونږ رکاب ته اوګورو نو رکاب برابر دے ۔ دغه رنګ د مجمع الاشعار د قلمي نسخې په وړومبي جلد کښې ټولې يو لپاسه درې سوه پاڼې دي ۔ د قلمي نسخې خپلې صفحې نمبرې په توره سياهي ليکلې شوې دي او لائبرېرۍ واله د پاڼو نمبرې په کچه پنسل ليکلې دي ۔

په کوم کېټلاګ کښې چې د قلمي نسخو په اول ځل انټري شوې ده په دغه کېټلاګ کښې د هرې نسخې لنډه پېژندګلو هم ليکلے شوې ده. د مجمع الاشعار د قلمي نسخو پېژندګلو ئې په جرمنۍ ژبه کښې کړې ده چې د هغې ترجمه داسې ده.

"دا د مختلفو شاعرانو د کلام مجموعه ده. د دې ډېره حصه په افغانۍ (پښتو) ژبه کښې ده. په دې کښې د فارسۍ شعرونه هم شته. په دې نسخه کښې تقريباً زر شعرونه دي خو د شاعرانو پېژند ګلو پکښې نشته. د هغوي نومونه په سره سياهي ليکلې شوي دي. په دې د ليک نېټه نشته خو يو مهر پرې دے چې ۱۱۳۸ پرې ليکلے شوے دے. دا په نستعليق خط کښې ليکلې شوې ده. په دې کښې تقريباً ۲۴۱ پاڼې دي."[۲]

د دې قلمي نسخې بهر د جلد سائز ۲۳x۱۴ سنټي ميټره دے. دننه د پاڼې سائز ۲۲x۱۳ سينټي ميټره دے. د متن نه ګېر چاپېره د پاڼې سائز داسې دے. ټاپ : ۸.۳ سم ، وېخ يا لاندې طرف: ۸.۳ سم ،ګس طرف: ۸.۳ سم ، ښي طرف يعني د جلد بندۍ طرف : ۵.۱ سم ،

په هر مخ د کرښو تعداد ۱۳،۱۴، يا ۱۵ دے. په کوم مخ چې د شاعر نوم نشته او کلام ورته د بل مخ نه جاري راوړېدلے دے نو په هغه مخ د کرښو تعداد ۱۵ دے. په کوم مخ چې د يو شاعر نوم دے نو هلته د کرښو تعداد ۱۴ دے او په کوم مخ چې د دوه شاعرانو نومونه دي هلته د کرښو تعداد ۱۳ دے.

د دې نسخې د کاغذ رنګ زيړ دے. پاڼې ئې وېنو خوړلې دي. د وېنو لارې پکښې اوس هم ښکاري خو وروستو ورله مخصوص کوټنګ کړے شوے دے او د نور خرابېدو نه بچ ده. دا قلمي نسخه د تور رنګ په سياهي ليکلے شوې ده خو د شاعرانو نومونه د سور رنګ په سياهي ليکلے شوي دي. ځاے په ځاے د فارسۍ د شعرونو سره په فارسۍ کښې لنډې شان حاشيې هم ليکلې

شوي دي دا قلمي نسخه په نستعليق خط کښې خوش خط ليکلې شوې ده . په دې نسخه کښې دننه په بعضې ځايونو کښې کټنګ هم شوې دے او بعضې ځايونه خالي هم پاتې شوي دي . د نولسمې پاڼې په دوېم مخ د فارسۍ يو غزل دے چې د پاسه پرې د شاعر نوم داسې ليکلے شوے دے "تتبع غزل ناصر علي از محمد ..." دلته د محمد د نوم نه وروستو حصه په سور قلم ورانه کړے شوې ده . او هم د دې غزل په مقطع کښې تخلص په توره سياهي وران کړے شوے دے . هم په دې مخ يو مخمس دے چې لپاسه يې پرې دا ليکلي دي " مخمس بر غزل ناصر علي از محمد ..." دلته هم د محمد نه وروستو د نوم باقي حصه ورانه کړے شوې ده او د دې فارسي کلام تخلص هم وران کړے شوے دے . د دريشتمې پاڼې په دوېم مخ د ميا اکبر د نوم لاندې نهه شعرونه په قلم داسې وران کړے شوي دي چې د لوستلو قابل نۀ دي . د يوسل دوه شپېتم پاڼې په اول مخ د مياا کبر يوولس شعرونه په قلم وران کړے شوي دي . د يوسل نهه اتيايمې پاڼې په دوېم مخ يو څو شعرونه وران کړے شوي دي . د دې شعرونو سره د شاعر نوم هم وران کړے شوے دے . په ۱۹۸ نمبر پاڼې په دويم مخ د ميا محمد صاحبزاده فيوضاته د نوم نه دائره چاپېره کړے شوې ده او خوا کښې ورسره هم په سره سياهي دادين ليکلے شوے دے . اګر چې سياهيانې دواړه سرې دي خو بيا يې هم په رنګ کښې فرق معلومېږي . او په خط کښې هم فرق دے . د دادين نوم يې چې ليکل دے نو دا خط نرے دے او خوش خط نۀ دے پته لګي د بل چا لاس وهنه ده . د يادونې وړ ده چې دادين يو بل شاعر دے چې په دے قلمي نسخه کښې يې د کلام نمونې شته . د ۲۴۰ پاڼې په دوئم مخ د سيد پيرخېل ختکان د نوم نه په توره سياهي دائره چاپېره کړے شوې ده او په خوا کښې ورته په تور خط حسېن ليکلے شوے دے . د ۲۰۲ پاڼې په دوېم مخ د سيد حسېن دوه شعرونه ليکلے شوي دي او بيا په اخر کښې مقطع ليکلې شوې ده او په دې مينځ کښې د څلورو شعرونو په مناسبت ځاے خالي دے . دغه رنګ د ۲۲۴ پاڼې په دوېم مخ هم د سيد حسېن دوه شعرونه

دي او نور ځاے خالي دے. په دې قلمي نسخه د ليکوال نوم په نظر رانغے خو په اولني مخ يو نوم دے چې پوره لوستل يې ګران دي خو داسې ښکاريږي لکه چې دا نوم رحمت حسين وي. او د رحمت حسين د نوم سره خوا کښې "بعوض قيمت" او څه نور ليکل په فارسي کښې هم شته چې ترې دا قياس هم کيدے شي چې دا قلمي نسخه د چا امير يا بادشاه د پاره په بيعه نقل کړې شوې ده. بهر حال دا خو يو قياس دے او دا خبرې د څيړنې وړ دي.
دباقاعده متن نه مخکښې دا ليکل شوي دي.
رب يسر بسم الله الرحمٰن الرحيم و تمم بالخير
په دې ليکلو کښې "رب يسر" او "و تمم بالخير" په سور خط ليکلے شوي دي او "بسم الله الرحمٰن الرحيم" په توره سياهي ليکلې شوې ده. د بسم الله نه وروستو هم په دغه مخ دا لاندېني اشعار درج دي. خو دلته يوه خبره د يادونې وړ ده چې بيا وروستو په ټوله نسخه کښې د اشعارو نه وړاندې د شاعر نوم خامخا وي خو دلته د دې اشعارو نه اول د چا شاعر نوم نشته البته په مقطع کښې د دادين نوم ذکر دے نو پته لګي چې دا کلام د دادين دے. شعرونه دا دي. (دا شعرونه ما په نوې املا کښې اوليکل)

ګوره هسې مهربان دے رب زما
چې رحيم دے هم رحمان دے رب زما
په هر څۀ چې [3] شي هغه کاندي
چې يوم هو في شان دے رب زما
دوه درياب ئې روي ګردان کړه په خپل ځان کښې برزخ لا يبغيان دے رب زما

ځکه اور ئې په خليل باندې ګلزار کړۀ
چې اغلب پر غليمان دے رب زما
په مېږو سره هلاک د اژدها که
چې دستګير د هر ناتوان دے رب زما

...و افتاب ګوره چې کېښــــــوويک؟
د فلــک پــه سـبز خــوان دے رب زمــا
لــه هــوا پــه خپـل حکـم بــې معطــره
ورووســـــے د بـــاران دے رب زمــــا
نباتـــات جمـــادات څـــه وايـــم و تاتـــه
چـــې خـــالق د کـــل جهـــان دے رب زمــا
پــه نــوروز کښــې د بهــار پــه ګلــو ګــوره
خنــــدوونے د بوســـتان دے رب زمـــا
پــه هــر بــاغ کښــې زردې پــاڼې لکــه سره زر
تويــــونکے د خـــزان دے رب زمـــا [۴]

د دنيــا فلــک پــه ســتوريو مــخ د زمکــې
ښايسـته زيبا کـړونے پـه انسـان دے رب زما
بــې لــه ســتنو لــه طنـاوه لــه مېخونـو
ودرونکـــــے د اســــمان دے رب زمـــا
د چــا نشــته دا قــدرت پــه ابــو بانــدې
کـــاريګر د کـــل خلقـــان دے رب زمـــا
کــه ميــږې دي کــه مرغــۍ دي کــه مــاهي دي
د همــــه روزي رســــان دے رب زمـــا
و هــر څيــز تــه يــې نعمــت دے چــې رسيږي
چـــې ذوالمـــن والاحســـان دے رب زمـــا
بــې وزيــره بــې اميــره بادشــاهي کــا
پـــه همـــه و حکمـــران دے رب زمـــا
بادشـــاهي د نـــورو بيـــا تغيـــر مـــومي
همېشــــه شـــاهجهان دے رب زمـــا

هـم بـې چونـه بـې چګونـه بـې مانـنـده
بـــې مانتـــده بـــې مكـــان دے رب زمـــا
پـه دغـا كښـې بـه كـافر شـي بـې مهلتـه
چــې بــه وايــي پــه دا شــان دے رب زمــا
دادیـن هسـې نـه چې دا پخپلـه عقـل مـومي
وركـــوونے د دې تـــوان دے رب زمـــا [۵]

د متن په دې وړومبي مخ تول لس شعرونه دي ـ په نورو مخونو زیاتره څوارلس شعرونه دي ـ په وړومبۍ پاڼه ركاب [۶] نشته او په نورو پاڼو ركاب شته ـ د دویمې پاڼې په دوېم مخ د علي خان كلام درج دے ـ د علي خان د كلام نه وړاندې د علي خان نوم په سور خط لیكلے شوے دے او هم دغه اهتمام په ټوله نسخه كښې شوے دے ـ د علي خان كلام چې په دغه مخ درج دے دا دے ـ

خــو چــې ووینــي باریكــه د یــار مــلا
ورتــه نیســي لــه حیرتــه هوښــیار مــلا
د دې مـــلا د ګســـتاخي لـــه تعزیـــره
پـــه اره شـــوي د شمشـــادو هـــزار مـــلا
لــه قامـت سـره یـې دم واهــه كهجـورې
چې یـې ډكـه شـوه پـه خنډ و پـه خـار مـلا
پـــه طفیـــل د تصـــدق د مـــلا د تركـــو
تشــوي هــر كــال لــه زرو چنــار مــلا
ســروې لــه پوچــه دعــوه كانــدي لــه حسـن
چــې هركــز یــې د چــا نـهٔ ده پكــار مــلا
تـــوره ورنـــه وه د یـــار د تـــورو زلفـــو
ځكـــه ماتـــه كیـــږي د مـــار مـــلا

که زرسل ځله اقرار ورسره وکه
در به کله که خوبان په قرار ملا
هومره حسن یې په قد سره انبار وي
چې نرۍ یې شوه د حسن په بار ملا
ځان په دوک کړه علي خانه زده سلوک کړه
هاله غواړه و د یار ملا[۷]

په دې نسخه کښې یو څو ځایه د شاعرانو د فارسۍ د کلام نمونې هم درج دي. د کومو شاعرانو چې د فارسۍ د کلام نمونې درج دي په هغو کښې یو څو نومونه دا دي. شیخ احمد، عشرت، شاکر، قاسم جهان ابادي، عاجز، یکدل، احمدي، شاطر، احمد.

په دې جلد کښې چې د کومو شاعرانو د کلام نمونې څومره درج دي د هغې تعداد داسې د ے. د چا کلامونه چې په فارسۍ کښې دي د هغوي د نوم سره په بریکټ کښې فارسي هم لیکلې شوې ده.

| شمېره | د شاعر نوم | د نظمونو یا غزلو تعداد | شمېره | د شاعر نوم | د نظمونو یا غزلو تعداد |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | شفیق | ۵ | ۵۲ | صالح (فارسي) | ۱ |
| ۲ | بخشو | ۲۱ | ۵۷ | نصرالله قاضي زاده | ۳ |
| ۳ | حافظ ګل محمد مرغزي | ۲ | ۵۸ | عصام | ۲ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۴ | نصرت اورکزے (فارسي) | ۱ | ۵۹ | نجم الدين | ۲ |
| ۵ | فتح علي اورکزے | ۲ | ۶۰ | محمد عجيب | ۲ |
| ۶ | نصر الله اورکزے | ۷ | ۶۱ | ميامحمد صاحبزاده | ۱۰ |
| ۷ | احمد | ۳ | ۶۲ | سعيد درانے | ۱ |
| ۸ | سعيد خټک | ۱ | ۶۳ | حسن | ۱ |
| ۹ | عشرت (فارسي) | ۱۸ | ۶۴ | علي خان | ۳۳ |
| ۱۰ | رستم اورکزے | ۲ | ۶۵ | علي خان اخوند زاده (فارسي) | ۱ |
| ۱۱ | علي اکبر اورکزے (فارسي) | ۸ | ۶۶ | حافظ سعيد اکبرپوره | ۱ |
| ۱۲ | علي اصغر | ۱ | ۶۷ | کاظم خان خټک | ۱ |
| ۱۳ | سعيد ساکن گنج کهنه (فارسي) | ۵ | ۶۸ | شمشېر بنګش | ۱۴ |
| ۱۴ | سعيد سپينه وړې | ۵ | ۶۹ | سيد پير خېل ختکان (پشتو ـ فارسي) | ۱۰-۲۰ |
| ۱۵ | حېدر علي | ۱-۱ | ۷۰ | نصر الله قاضي | ۳ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | (پښتو فارسي) | | | زاده | |
| ۱۶ | حافظ سعید | ۱۲ | ۷۱ | معزالله اورکزے | ۱ |
| ۱۷ | شاکر (فارسي) | ۳ | ۷۲ | سید حسین | ۱۷ |
| ۱۸ | قاسم جهان ابادي (فارسي) | ۳۵ | ۷۳ | دادین (پښتو۔ فارسي) | ۷- ۵۹ |
| ۱۹ | سعید | ۱ | ۷۴ | یحيٰ | ۹ |
| ۲۰ | قاسم | ۵ | ۷۵ | یحيٰ خان | ۱ |
| ۲۱ | ملا ظابط خان | ۱ | ۷۶ | نسیم | ۱ |
| ۲۲ | نصر الله اورکزے | ۱ | ۷۷ | اکبر | ۷ |
| ۲۳ | عزیز محمد | ۳ | ۷۸ | اکبر اخوند زاده سواد | ۱ |
| ۲۴ | علم افریدي | ۲ | ۷۹ | میااکبر | ۱۲ |
| ۲۵ | سلیم اخوند زاده | ۱ | ۸۰ | پشم خان | ۱۶ |
| ۲۶ | فقیره | ۲ | ۸۱ | پشم | ۴ |
| ۲۷ | اسیر | ۱ | ۸۲ | بنارس خان | ۲ |
| ۲۸ | نورالله | ۶ | ۸۳ | درویش | ۳ |
| ۲۹ | گل محمد | ۱ | ۸۴ | نسیم (فارسي) | ۱ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۰ | محمود ګل | ۱۲ | ۸۵ | شهباز خان | ۱ |
| ۳۱ | عاجز (فارسي) | ۲ | ۸۶ | عبيد | ۳۰ |
| ۳۲ | مير محمد | ۱ | ۸۷ | عبيد الله | ۵ |
| ۳۳ | مسکين کشميري (فارسي) | ۲ | ۸۸ | اکبر اخوند زاده(پښتو ـ فارسي) | ۱- ۳۰ |
| ۳۴ | مسکين | ۱ | ۸۹ | لالا | ۱۸ |
| ۳۵ | شمس الدّين | ۲ | ۹۰ | اکبر شاه | ۱۸ |
| ۳۶ | سعد الدين (فارسي) | ۱ | ۹۱ | شاطر (فارسي) | ۱ |
| ۳۷ | ګل حسن | ۲ | ۹۲ | دوست محمد خان خليل | ۱ |
| ۳۸ | شير محمد | ۱ | ۹۳ | ناصر خان | ۱ |
| ۳۹ | قاضي رسول پشتو (فارسي) | ۲-۱ | ۹۴ | حاجي | ۸ |
| ۴۰ | ابو القاسم | ۳ | ۹۵ | لشکر | ۱ |
| ۴۱ | حافظ سعيد | ۱ | ۹۶ | محمد (فارسي) | ۲ |
| ۴۲ | قاسم خان | ۱۳ | ۹۷ | شيخ احمد (فارسي) | ۹۰ |
| ۴۳ | قاسم خان خټک | ۵ | ۹۸ | شيخ محمد | ۱ |
| ۴۴ | قاسم | ۴ | ۹۹ | ميا اکبر شاه | ۹ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۴۵ | سید نور اخوند زاده | ۱ | | ۱۰۰ | کرم علي (فارسي) | ۱ |
| ۴۶ | ذوالقدر | ۱ | ۱۰۱ | نجیب | ۸ |
| ۴۷ | شېخ محمد افریدي | ۱ | ۱۰۲ | فدوي | ۱ |
| ۴۸ | ضابط | ۲ | ۱۰۳ | ملا محي الدین | ۲ |
| ۴۹ | یکدل (فارسي) | ۸ | ۱۰۴ | محي الدین | ۱ |
| ۵۰ | قاسم خان اورکزے | ۱ | ۱۰۵ | ملا غلام | ۵ |
| ۵۱ | حافظ (فارسي) | ۱ | ۱۰۶ | غلام | ۱ |
| ۵۲ | دوست محمد خلیل | ۳ | | | |
| ۵۳ | احمدي (فارسي) | ۱ | | | |
| ۵۴ | فېض الحق | ۲۱ | | | |
| ۵۵ | جمال | ۱ | | | |

په دې جلد کښې چې دکومو شاعرانو کلامونه ورکړے شوي دي په هغوي کښې اخري کلام د یحيٰ دے. د یحيٰ د کلام نه وړاندې د ۳۰۱ پاڼې په وړومبي مخ د اکبر اخوند زاده دا کلام درج دے چې وړومبے شعر یې په وړومبي مخ دے او باقي د ۳۰۱ پاڼې په دویم مخ دي.

ما غوښتل دشت وکوه خوش څنګل
یوه ونه مې لیده اتویشت ول[۸]

په دېرش ښاخه باندې تللې لور په لور وه
د طوبې ونه ترې پور وشرمېدل
په شپږ زره څانګو ګوره وه بې حده
شپږ شپېته شپږ سوه نور ما ليدل
ځني څانګې پکښې وچې وې له نمه
چې سايه د نورو څانګو پرې راغل
هغه وچې ځني نه شو پرېکول
په شماره د هغه ونې جوړېدل
تاجداران يې تر سايې لاندې کا ناسته
ګدايانو ترې په سر کړلې منګول
په مېوه يې د جهان ژوي سېراب شو
د نصيب په قدر هر يوه موندل
يک بينان سر تا پايه درسته غواړي
د دوبينو پښه له ښاخه ښوېدل
دا بيان دے د اشکال په بڅعه نغښتے
دا جز کومو خلقو لولول
که مراد يې چا ښکاره که و اکبر ته
په ګلزار دې خدا ے پنړ که بلبل
که انصاف کړې د اکبر په شعر زير شه
په بياض يې ملغلرې و پئېل[۹]

په اخري مخ د يحيٰ د کلام دا شعرونه درج دي.

دا کاکل په جبين خور کۀ دلبر تول
که ملک کښې تندر اونيوۀ قمر تول

زړۀ مي هسې ستا غمونو تار په تار کړۀ
لکه باد پرېشان کا ګل د سحر ټول
چې له مخه يې نقاب واخست رڼا شوه
د ښائست رونق راونيوه لۀ نمر ټول
ترې يو څاڅکے به بيرون نه کا د وينو
که جراح مي په رګ ښخ کړۀ نشتر ټول[۱۰]
ستا د سپين

په دې اخري پاڼه د اخري شعر لاندې ګس طرف ته "ستا د سپين" ليکلي شوي دي. په دې جلد کښې ترقيمه نشته خو دا جلد مکمل دے ځکه چې مونږ کله دوئم جلد ګورو نو د دوئم جلد اولنے شاعر يحيٰ دے او د هغه کوم کلام چې د دې جلد په اخر کښې ورکړے شوے وه دا په دوئم جلد کښې جاري دے. دا پته د اول جلد اخري مخ د رکاب "ستا د سپين" نه لګي. هم د دې لفظونو نه د يحيٰ کلام په دوئم جلد کښې شروع شوے دے.

مجمع الاشعار دوېم جلد

د مجمع الاشعار د وړومبي جلد او د دوېم جلد رنګ او سائز يو شان دي. د وړومبي جلد په شان د دې جلد رنګ شين دے او مظبوطه جلد بندي يې شوې ده. د جلد په Spine شا طرف په چاپ شوي خط "مجمع الاشعار" ليکلے شوي دي. د دې نه لاندې Vol. II ليکلې شوي دي. د يادونې وړ ده چې په دواړو جلدونو په شا طرف د نسخې نوم او جلد نمبر کنده کړے شوي چاپ ليکل دي. چې په ګولډن رنګ کښې ليکلے شوي دي. د دې نه لاندې يو سټيکر لګېدلے دے چې يې پرې په چاپ خط Afghan ليکلي دي. بيا لاندې يو بل سور رنګ واله سټيکر پرې لګېدلے دے چې د قلمي نسخې د دې جلد نمبر يې پرې داسې ليکلے دے. Ms.orient.oct.۱۲۲۳ . د بائنډنګ او د متن تر مېنځه درې پاڼې خالي دي. د وړومبي جلد په شان په دې جلد هم دوه قسمه د پاڼو نمبرې لګېدلې دي. يو د نسخې خپلې اولنۍ نمبرې دي او يو قسم نمبرې

لائبرېرۍ واله لګولې دي . د قلمي نسخې خپلې نمبرې د ۳۰۰ نه شروع شوې دي ځکه چې د وړومبي جلد د اخري پاڼې نمبر ۲۹۹ وۀ . او دغه رنګ د اخري پاڼې نمبر ۲۴۱ دے . او د لائبرېرۍ د عملې ورکړے شوے نمبر د يو نه شروع دے او د اخري پاڼې نمبر ۳۴۲ دے . د وړومبي مخ په سر لائبرېرۍ واله په توره سياهي دا ليکل کړي دي .

Acc.ms.۱۹۱۳.۱۵۰

Ms.orient.۱۲۲۳

د مجمع الاشعار د قلمي نسخې د دې دوېم جلد متن د اول جلد سره تړلے دے . د اول جلد اخري کلام د يحيٰ وه . او د هغه د ورکړے شوي کلام په اخر کښې رکاب "ستا د سپين" ليکلے شوے وۀ . هم دلته د دوېم جلد شروع د يحيٰ د کلام نه کيږي چې هغه رکاب دلته په شروع کښې راغلے دے . او د يحيٰ کلام داسې نقل شوے دے .

ستا د سپين غاښو ابدارو له ارمانه
په صدف کښې شۀ له شرمه ګوهر ټول
په ليدود ې هسې شم خوشحاله نمر مخه لکه وغوړېږي ګل د نيلوفر ټول
له پروازه شومه پاتې په ځاے پروت يم
چې مي وسوه جدايي ستا شهپر ټول
که مې ورولي يوځل د يار تر دره سر او مال به کړم فدا تر رهبر ټول
له وصال له بابه کله بهره مند شۀ که يحي ولوست د مينې دفتر ټول

د يحي د دې کلام نه بعد د قاسم جهان ابادي د فارسۍ کلام ورکړے شوے دے . او بيا په مخ ۱B د علم افريدي کلام شروع کيږي . چې لاندې ورکړے شوے دے .

دارو نشته په جهان کښې د اجل
نه په زور نه په زارۍ نه په جدل
هيڅ علاج د خلاسي نشته له تقديره

رضا بویه پر قضا د لم یزل[۱۱]
نهٔ رشوت د چا قبلیږي و قضا ته
که مهران که په لکونو ورته تل
که زر سل پاخه کوټونه لکه غرونه
څوک تر ځان چاپېره ساز کا په کل ؟
یا په لاس کښې یې دولت د کل جهان شي
پرې نوکر کا کل عرب پښتون مغل
یا زر سل طبیبان کېښنوي و ځان ته
چې هر یو په نبض ښهٔ لري اټکل
یا باریک لطیف خوراک په ډېر ترتیب کا
له اسرافه اجتناب کوي مجمل
یا مقام کا پاس د پاسه په هوا کښې
له جهانه کناره شي تل تر تل
یا مقام کړي دریاب په جزیره کا
شپېته کاله قدر بیرته کا منزل
نه له کوره چرته درومي نه سفر کا
زر کلونه یې شي عمر باندې سل
که دا کل د چا حاصل شي چې بیان شو
خلاص به نه شي نه په سم نه په جبل
دا به واړه شي لاشي د ده په کار کښې
چې اجل درباندې تاخت وکا یرغل
که پیران سراسر واړه ورته ټول شي
تر دا زیات به څه لري د زړهٔ صیقل
حکم شوے د مولا په نېک عمل دے
په طلب شه همېشه د نېک عمل

ستا وجود لکه دریاب دے په مثال کښې
دوه کشتۍ ورباندې ګرځي ول په ول
په یوه کشتۍ کښې روح وي دویم عقل
په دریم کښې دي نفس بل شېطان
نفس حاکم شېطان وزیر دے خبردار شه
چې بېړۍ ډوب نه کا په دا چل[12]
د قیامت ساعت به راشي بې ګمانه
تل په نیت د کوچ تیار لره پړتل
حساب نه دي لس به نه شي صبر بویه
که پایمال کړي چین ماچین ادول بډول
څه خوبان دلبر زلمي په دلبرۍ کښې
خیاله ولي په څو رنګه جلا جل
په خاطر هندوستان خراسان ګرځي
هومره خیال په زړۀ عالي محل
د ځوانۍ د بهار ګل یې په لاس کښې
فراغت وي د خزان له چپاول
څو دماغ کبر خودي لري په زړه کښې
ناګهانه پیاله نوش کا د اجل
ښایسته ګل رنګه جل په نوبهار کښې
نیمه خواشي ګل اندامه هسې جل
ډکه خوا به ارمان درومي له جهانه
تار په تار کا تورې خاورې تور اوربل
ترو باید چې نور څه مکړه بې طاعته
هم په در کښې د بري دي بې خلل
محبت په نور څه مکړه بې طاعته

د قارون زمکه بطي شوه هم شډل
بې له ذکره بې له فکره نور څه مه کړه
له ماضي توبه تائب شه مستقبل
څوک به ما غوندې جاهل کاهل پېدا شي
څوک به ما غوندې غافل وي هم خجل
له حجابه بې حجابه اکر دم شي
که يې سل جوړه پوشاک وي د ململ
لاندې باندې به له ګرده الوده شي
که په سر وي بنات لاندې بخمل
اخرش به سر سرتور پښې يېل درومي
که هزار ورپسې درومي اس کوتل[۱۳]
د غفلت له خوبه پاڅه ځان بيدار کړه
هر زمان په نن فردا مه شه درغل
په توکل کښې مستقيم لکه ګيا شه
که جهان سره ګډوډ شے يا سورغل
کل عيشونه کل فرشونه بې وفا دي
زړۀ د عشق په اور کباب کړه سينه جل
هر چې څه دي ما سوا قدم پرې کېږده
بې محبوبه له مه شه اشنا بل
که مجنون يې په لېلا پسې ملنګ شه
په کوڅه کښې ورته پريوزه لکه شل
ګرم ګرم آه له درده له فراقه
زيات لذت کا تر حلوا سلوا عسل
په آدم پسې روانه شوه بې درنګه
درخو پرېښو باغ و راغ د ګلو تل

له کرداره سره لږ علم کافي دے
نه چې بې عمله یاد کا مطول
له نېکانو سره ښهٔ کړه بد له بدو
د بد خواه په گفتگوي مه شه دربل
په رماز په حکایت انسان پوهیږي
بې هنر لکه خر پرېږده په غوبل
بې طعام چې د خوب اثر پرې اوشي
د جاهل په زړهٔ اثر نه کا غزل
چې گفتار کردار یې نه یگانه کیږي
د علم په څېر به څوک وي غل د غل[14]

لکه څنگه چې وړاندے لیکلے شوي دي چې په وړومبي جلد د "محمد شاه بادشاه' مهر لگولے شوے دے۔ په دې جلد مهر نشته۔ دا جلد هم د وړومبي جلد په شان وېنو خوړلے دے خو بیا وروستو د نورو خرابېدو نه محفوظ کړے شوے دے۔ اخري دوه پاڼې د نورو پاڼو نه زیاتې خرابې او وېنو وهلې ښکاري۔ د دې جلد په اخري حصه کښې د ۳۱۹ پاڼې نه تر ۳۴۲ پاڼې پورې رباعیانې (څلوریزې) دي چې په هغې کښې په اخري مخ دوه څلوریزې درج دي او د نیمې نه زیات مخ خالي دے خو هیڅ قسمه ترقیمه یا د نسخې د لیک نېټه یا د لیکوال نوم نۀ لري۔ په دې ددوېم جلد کښې چې په کوم ځاے کښې څه قسمه کټ کوربد شوے دے د هغې ذکر دلته کولے شي۔

په مخ ۲۱B باندې د لالا شاعر کلام دے۔ په دې کلام کښې یو شعر وران کړے شوے دے۔ په مخ ۱۱۵B د یو کلام د پاسه د گل مځمد مرگزي نوم لیکلے شوے دے۔ دلته د دهٔ د نوم نه داېره راښکلې شوې ده او په خوا کښې ورسره په سور خط حافظ سعید لیکلے شوے دے۔ په مخ ۱۲۷B د احمد اخوند زاده د لیکلې قصیدې نه یو شعر وران کړے شوے دے۔ په مخ ۱۲۴B د پشم خان نوم چې د کوم غزل د پاسه لیکلے شوے دے نو هغه یې وران کړے دے کو بیا

هم په نظر راځي خو د دغه غزل په مقطع کښې د دادین نوم لیکلے شوے دے نو پته لګي چې دا غزل د دادین دے. په مخ ۱۷۱A د علي خان د نوم نه چاپېره کرښه تاو ده. په خوا کښې ورته په توره سیاهي د سعید نوم لیکلے شوے دے خو د مقطع نه پته لګي چې دا کلام د علي خان دے. په مخ ۱۹۹B د محمد عظیم د نوم نه دایره چاپېر کړے شوې ده او په خوا کښې یې ورسره د دادین نوم په توره سیاهي لیکلے دے خو د غزل په مقطع کښې تخلص د محمد عظیم دے. په مخ ۲۰۲B د لیکوال نوم په سره سیاهي داسې وران کړے شوے دے چې د لوستو قابل نۀ دے. درې شعرونه یې په توره سیاهي وران کړي دي او هم د دې جاري غزل اخري دوه شعرونه په مخ ۲۰۳A هم په توره سیاهي وران کړے شوي دي. په ۲۴۴B ووه شعرونه په توره سیاهي بالکل وران دي د شاعر نوم ورسره هم نشته. او بیا د دې پسې دوه پاڼې بالکل خالي دي چې د هغې نمبرې ۲۴۲, ۲۴۵ دي. په مخ ۲۸۳A د دادین د نوم نه په توره سیاهي دائره تاؤ کړے شوې ده او ورسره خوا کښې ظابط لیکلے شوے دے. د دې غزل په مقطع کښې تخلص هم ظابط دے. په مخ ۳۰۸A د حافظ ګل محمد مرغزي د نوم لاندې په دې مخ ووه شعرونه وران کړے شوي دي او هم د دغه جاري کلام باقي پینځه شعرونه په مخ ۳۰۸B وران کړے شوي دي.

په دوېم جلد کښې د شاعرانو نومونه او د هغوي د کلام د نمونو د تعداد اندازه د دې ټېبل نه په اسانه لګېدے شي.

| شمېره | د شاعر نوم | د نظمونو یا غزلو تعداد | شمېره | د شاعر نوم | د نظمونو یا غزلو تعداد |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | قاسم | ۱۷ | ۵۲ | احمد شاه | ۱ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | جهان ابادي (فارسي) | | | | |
| ۲ | شیخ احمد (فارسي) | ۳۰ | ۵۷ | قمبر علي اورکزے | ۲ |
| ۳ | مسکین کشمیري (فارسي) | ۱ | ۵۸ | نسیم | ۱ |
| ۴ | عشرت (فارسي) | ۱۲ | ۵۹ | عصام | ۱ |
| ۵ | علم افریدي | ۱ | ۶۰ | سردار | ۱ |
| ۶ | شاکر (فارسي) | ۲ | ۶۱ | نصر الله قاضي زاده | ۴ |
| ۷ | بخشو | ۲۲ | ۶۲ | ملا غلام | ۲ |
| ۸ | یکدل (فارسي) | ۶ | ۶۳ | نجیب | ۲ |
| ۹ | عبید الله | ۲ | ۶۴ | فقیره | ۲ |
| ۱۰ | عبید | ۴۱ | ۶۵ | نورالله | ۸ |
| ۱۱ | اکبر اخوند زاده | ۳۸ | ۶۶ | مرزا جلال الدین انور (فارسي) | ۱ |
| ۱۲ | اکبر شاه | ۱۲ | ۶۷ | حافظ محمد (فارسي) | ۱ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳ | میا اکبر | ۱۲ | ۶۸ | سعید | ۵ |
| ۱۴ | میا اکبر شاه | ۱۳ | ۶۹ | الیاس | ۲ |
| ۱۵ | اکبر | ۱ | ۷۰ | سرانداز | ۲ |
| ۱۶ | سید حسین | ۲۵ | ۷۱ | ابوالقاسم | ۷ |
| ۱۷ | علي خان | ۴۰ | ۷۲ | ضابط | ۱ |
| ۱۸ | فیض الحق | ۳۴ | ۷۳ | سید نور | ۱ |
| ۱۹ | عصام | ۳ | ۷۴ | حافظ ګل محمد مرغزي | ۴ |
| ۲۰ | حاجي | ۲ | ۷۵ | نصر الله قاضي زاده | ۲ |
| ۲۱ | شیخ محمد | ۲ | ۷۶ | سعید درانے | ۱ |
| ۲۲ | سعید سپینه وړی | ۲ | ۷۷ | امین الدین (فارسي) | ۱ |
| ۲۳ | حافظ سعید | ۳۳ | ۷۸ | فتح علي | ۱ |
| ۲۴ | دادین (پښتو ـ فارسي) | ۷۵-۱ | ۷۹ | سعید خټک | ۱ |
| ۲۵ | بنارس | ۳ | ۸۰ | رستم | ۲ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | خان | | | اورکزے | |
| ۲۶ | فهیم | ۲ | ۸۱ | عبدالرحمان ختک | ۱ |
| ۲۷ | علي اکبر اورکزے (پښتو ـ فارسي) | ۲-۱ | ۸۲ | عصام | ۱ |
| ۲۸ | محمود ګل | ۱۲ | ۸۳ | قاضي رسول | ۱ |
| ۲۹ | نصرت اورکزے (فارسي ـ پښتو) | ۱-۱ | ۸۴ | احمد اخوند زاده (پښتو ـ فارسي) | ۱-۱۵ |
| ۳۰ | فتح علي اورکزے | ۲ | ۸۵ | عبدالله | ۲ |
| ۳۱ | نصر الله اورکزے | ۱۲ | ۸۶ | غلام احمد (فارسي) | ۱ |
| ۳۲ | سید پیر خېل ختکان (پښتو ـ فارسي) | ۱-۳۳ | ۸۷ | شمس الدین | ۱ |
| ۳۳ | شمشېر بنګش | ۲۴ | ۸۸ | درویش | ۱ |
| ۳۴ | قاسم خان | ۲۳ | ۸۹ | شرافت خان | ۱ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۵ | محي الدين | ۵ | ۹۰ | نصر الله خان | ۱ |
| ۳۶ | پشم خان | ۲۱ | ۹۱ | وزير بادشاه قشقار (فارسي) | ۱ |
| ۳۷ | لالا | ۱۷ | ۹۲ | سعدالدين (فارسي) | ۱ |
| ۳۸ | شفيق | ۳ | ۹۳ | دوست محمد خليل | ۴ |
| ۳۹ | يحي | ۹ | ۹۴ | ملا عبدالله خان داوزي | ۲ |
| ۴۰ | قاضي رسول | ۷ | ۹۵ | حاجي | ۱ |
| ۴۱ | نجيب | ۷ | ۹۶ | ميرباز خان | ۲ |
| ۴۲ | نسيم | ۲ | ۹۷ | عبدالله | ۱ |
| ۴۳ | قاسم خان خټک | ۵ | ۹۸ | محمد عظيم | ۲ |
| ۴۴ | صحبت | ۲ | ۹۹ | عبيد الله دوابه | ۳ |
| ۴۵ | عبدالله | ۲ | ۱۰۰ | شمس الدين | ۲ |
| ۴۶ | مير محمد | ۱ | ۱۰۱ | علم افريدي | ۵ |
| ۴۷ | مير باز خان خټک | ۱ | ۱۰۲ | ميرباز خان | ۲ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۴۸ | ذوالقدر | ۱ | ۱۰۳ | علي اکبر | ۱ |
| ۴۹ | ضابط | ۳ | ۱۰۴ | شیخ محمد | ۱ |
| ۵۰ | سعید ساکن سکنه گنج کهنه پشاور (پښتو ـ فارسي) | ۱-۵ | ۱۰۵ | معز الله اورکزے | ۱ |
| ۵۱ | محمد سعید | ۱ | ۱۰۶ | میر محمد | ۱ |
| ۵۲ | حاجي | ۲ | ۱۰۷ | ملا غلام اخوند زاده | ۱ |
| ۵۳ | سید اکبر شاه | ۴ | | | |
| ۵۴ | حمید | ۱ | | | |
| ۵۵ | ملا عبد الله خان | ۱ | | | |

د نظمونو او د غزلو نه علاوه په دویم جلد کښې د۳۱۹ پاڼې نه د ۳۴۲ پاڼې پورې رباعیانې (څلوریزې) هم دي چې د هغې تفصیل په دې لاندیني ټېبل کښې ورکولے شي۔

| شمېره | د شاعر نوم | د څلوریزو شمېره | شمېره | د شاعر نوم | د څلوریزو شمېره |
|---|---|---|---|---|---|

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | محي الدين | ۱ | ۹ | عشرت | ۷۹ |
| ۲ | دادين | ۲ | ۱۰ | قاسم بنګش | ۴ |
| ۳ | لالا | ۱۳ | ۱۱ | شيخ احمد (فارسي) | ۳۲ |
| ۴ | قاسم جهان ابادي (فارسي) | ۳۹ | ۱۲ | عبيد | ۴۳ |
| ۵ | سيد حسين | ۴ | ۱۳ | علي خان | ۱۱ |
| ۶ | ميا اکبر | ۱ | ۱۴ | ملا غلام | ۱ |
| ۷ | سيد پير خيل ختکان | ۲ | | | |
| ۸ | ملا محبت | ۱ | | | |

د مجمع الاشعار د دواړو جلدونو اشعار د رديف وارحروف تهجي په ترتيب سره درج دي ـ چې د يو توري (حرف) شعرونه د کومې پاڼې[۱۵] نه تر کومې پاڼې پورې دي ـ د دې تفصيل په لاندېني ټېبل کښې تاسو کتلے شئ ـ

| حروف تهجي | پاڼه نمبر | حروف تهجي | پاڼه نمبر |
|---|---|---|---|
| جلد اول : ا | ۱-۴۳A | ش | ۲۲۱AB, ۲۲AB,۲۲۷A-۲۵۱B |
| ب | ۴۳A-۵۱B | ښ | ۲۵۲A-۲۲۱B |
| ت | ۵۲A-۹۱B | ص | ۲۲۱B-۲۲۲B |
| ټ | ۹۱B-۹۳B | ض | ۲۲۲B-۲۲۳A |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ث | ۹۳B-۹۶B | ط | ۲۶۳B-۲۶۴A |
| ج | ۹۶B-۹۹B | ظ | ۲۶۴A-۲۶۵B |
| چ | ۹۹B-۱۰۰A | ع | ۲۶۵B-۲۶۷B |
| ځ(څ)[۱۲] | ۱۰۰A | غ | ۲۶۷B-۲۶۸A |
| څ | ۱۰۰A-۱۰۱A | ف | ۲۶۸B-۲۷۰A |
| ح | ۱۰۱B-۱۰۲B | ق | ۲۷۱B-۲۷۳A |
| خ | ۱۰۳A-۱۰۷B | ک | ۲۷۳A-۲۹۷B |
| د | ۱۰۸A-۱۵۷A | ل | ۲۹۷B-۳۰۱B |
| ډ | ۱۵۷A-۱۵۷B | جلد دوم: ل | ۱A-۱۱B |
| ذ | ۱۵۸A-۱۵۸B | م | ۱۱B-۶۸A |
| ر | ۱۵۸B-۱۸۷A | ن | ۶۸A-۹۴B |
| ړ | ۱۸۷A-۲۱۴B | و | ۹۴B-۱۱۰A |
| ز | ۲۱۵A-۲۲۰B | ه | ۱۱۰A-۱۷۲B |
| ږ | ۲۲۰A-۲۲۰B | ي | ۱۷۲B-۳۱۸B |
| س | ۲۲۰A, ۲۲۳A-۲۲۷A | | |

د دې قلمي نسخې د ليک نېټه نهٔ ده معلومه خو په دې قلمي نسخه باندې يو مهر لګېدلے دے چې د هغې ذکر مخکښې تېر شوے دے . په دغه مهر ۱۱۳۸ ليکلے شوے دے خو کله چې دا نسخه ما په سرسري توګه دننه اوکتله نو يو څو ځايونو کښې تاريخونه ليکلي شوي دي. د کلام په کومو نمونو کښې چې څه نه څه تاريخ راغلے وي د هغې نه يو دوه نمونې لاندې درج کولے شي.

د دویم جلد په مخ ۲۸۸A د "تاریخ بنا مسجد صاحبزاده جیو دام فیوضاته از مصنفات یکدل شاعر" د سر خط لاندې د فارسۍ لاندیني شعرونه درج دي چې یو تاریخ هم لري.

یہ دنیادنی تو بے وفا ہے
بہلا یئے کہ طمع اس سون بہلا ہے
نہیں مر تا وہ جیتا ہے دو جگ میں
بھلا کچھ جس نے دنیا میں کیا ہے
پہرا ہے دفتر دنیا سے میں یہ
وہی ہوے گا جس نے کچھ دیا ہے
عجب مسجد بنائی محمدی نے
کہ جگ ساری مول جس کا غل پرا [برا؟] ہے
نہیں توصیف اس کی کام میرا
مگر دنیا میں جنت سرا ہے
کہی تاریخ یوں یکدل نے اس کی
کہ عالی مسجدِ فرخ بنا ہے[17]

۱۱۷۶

د فارسۍ په دې شعرونو کښې د اخري شعر لاندې ګس اړخ ته په سور خط ۱۱۷۶ لیکلے شوے دے. د دې نه علاوه د قاسم جهان ابادي په فارسۍ ژبه کښې لیکلے شوي دا لاندیني شعرونه د قلمي نسخې د اول جلدد مخ ۳۷B او ۳۸A نه نقل کړے شوي دي.

باياي يقين نسبت دين نام محمد
کز شهد شا ساخته شيرين و هنم را
از کثرت شيريني نا مش نه کشايد
يار ري سخن اي‌ں لب چسپيده بهم را
عاجز شدم از مع سرائے به کمارم

در فکر دعائش دل و جان دیده و دم را
تاریخ مزید درجالش خردم گفت
مولا به نسیبش به کنده جاه و حشم را

(۱۱۸۰)

تاریخ دوئم گفت خرد کز لب اداب
پیوسته سلاطین ببوسند قدم را[۱۸]

۱۱۷۹

الثالث بالخیر ندائم زده هاتف
زد سبز بود دوحهٔ عمرش چوارم را

۱۱۸۹

زین مدح نخست ایں صله از فخر تمنا است
پابوس میاں صاحب دي الجود و کرم را[۱۹]

د فارسۍ په دې شعرونو کښې چې کوم مختلف تاریخونه لیکلے شوي دي په هغوي کښې اکري تاریخ ۱۱۸۹ هجري دے. نو د دې نه معلومېږي چې دا نسخه هم د ۱۱۸۹ خواوشا ترتیب شوے ده. دا نسخه د پښتو ژبې او ادب په تاریخ کښې یوه غوره اضافه ثابتېدے شي. ان شا الله ډېر زر به دا نسخه د ترتیب او تدوین نه وروستو لوستونکو ته وړاندې کړے شي.

# حوالې

[۱] کتاب یا قلمي نسخه چې کله مونږ په الماریۍ کښې کېږدو او مونږ طرف ته چې د کتاب کوم اړخ راشي دغه اړخ ته په انګرېزۍ کښې Spine وائي. په سپائن عموماً د کتاب نوم او د مصنف نوم درج وي.

[۲] د جرمن نه پښتو ته په دې ترجمه کښې زما استاذ پروفېسر ډاکټر لوټس ژهاک مرسته اوکړه. مننه يې کوم.

[۳] ـــ کوم ځاے کښې چې دا نخښه وي هلته لفظ لوستل زما د قابو نه بهر وو نو ما د قیاس نه کار نۀ دے اخستے خو ځاے مې ورته خالي پرېښودے دے او لفظ مې نۀ دے لیکلے.

[۴] مجمع الاشعار قلمي نسخه ، جلد اول، مخ ۱B

[۵] مجمع الاشعار قلمي نسخه، جلد اول، مخ ۲A

[۶] د دویم مخ وړومبے لفظ یا د لفظ څه حصه چې کله د اول مخ په اخر کښې اولیکلے شي دې ته رکاب وائي. د دې نه په اسانۍ دا پته لګي چې دې مخ پسې کوم مخ دے.

[۷] مجمع الاشعار قلمي نسخه، جلد اول، مخ ۲B

[۸] مجمع الاشعار قلمي نسخه، جلد اول، مخ A ۳۰۱

[۹] مجمع الاشعار قلمي نسخه، جلد اول، مخ:۳۰۱B

[۱۰] مجمع الاشعار قلمي نسخه، جلد اول، مخ:۳۰۱B

[۱۱] مجمع الاشعار قلمي نسخه، جلد دوم، مخ نمبر :۱B

[۱۲] مجمع الاشعار قلمي نسخه، جلد دوم، مخ نمبر: ۲A

[۱۳] مجمع الاشعار قلمي نسخه، جلد دوم، مخ نمبر:۲B

[۱۴] مجمع الاشعار قلمي نسخه، جلد دوم، مخ نمبر:۳A

[۱۵] په قلمي نسخه د هر مخ جدا جدا نمبر نشته خو د پاڼې نمبر دے. ځکه په یوه پاڼه کښې د دوه مخونو د پاره مونږ A او B لیکو.

[16] داتورے په لیک کښې خو ځ د ے خو اواز د ځ ورکوي خو په زړو قلمي نسخو کښې د ځ په ځاے ځ لیکلے شوے وي۔ او دغه رنګ دا تورے د ځ او ځ دواړو د پاره کورولے شوے وي۔

[17] مجمع الاشعار قلمي نسخه، جلد دوم، مخ نمبر : ۲۸۸A

[18] مجمع الاشعار قلمي نسخه، جلد دوم، مخ نمبر : ۳۷B

[19] مجمع الاشعار قلمي نسخه، جلد دوم، مخ نمبر: ۳۸A